UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communication and Spokespersons Unit, Kabul, Afghanistan
Briefing to the Security Council
http://unama.unmissions.org

# د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړي استازي، يان کوبيش له خوا، د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته لنډ راپور

(لکه څرنګه چې وړاندې کولو لپاره چمتو شوی)
له کابل څخه د ملګرو ملتونو نيويارک ته ويډيويي کنفرانس،
چهارشنبې، ۲۵ جون ۲۰۱۴

***

ښاغلی رئيس، د امنيت شورا قدرمنو غړو،

د جون د ۱۸ نېټې د سرمنشي راپور د وروستۍ ربعې د پېښو او رجحاناتو يوه هر اړخيزه کتنه وړاندې کوي. دا راپور د جون د۱۴مې له دويم پړاو ټاکنو څخه مخکې بشپړ شوی و. له همدې امله، زه غواړم له هغې راهيسې د ټاکنو اړوند پېښو په اړه تازه معلومات درکړم، هغه پېښې چې نن يې په نيويارک کې ستاسو سرهزما له فزيکي شتون د مخنيوې لامل شوې.

تاسو د داسې ننګونو په منځ کې غونډه کوئ چې د افغانستان انتخاباتي بنسټيز او قانوني چوکاټونه، او همدارنګه د هغه سياسي مشرانو پوخوالی ازمايي. دا چې څنګه دوه ولسمشريز نوماندان – ډاکټر عبدالله عبدالله او ډاکټر اشرف غني احمدزي – او د هېواد مشرتابه دا پېښې او بن‌بست اداره کوي، د افغانستان د يووالي او ثبات لپاره به خورا حياتي وي.

يو پر وخت سياسي انتقال چې باثباته او يو موټی پايله ولري، د افغانانو هيله او د افغانستان د سياسي، امنيتي او پرمختيايي ننګونو په برخه کې د پرمختګ لپاره اړين بنسټ دی. په دې کې په راتلونکو لوړ پوړو نړيوالو غونډو کې د افغانستان د پياوړې مشرۍ اړتيا هم شامله ده، چې موخه يې د راتلونکو کلونو لپاره د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د دوه اړخيزو ژمنو جوړول او پياوړي کول دي.

ښاغلی رئيس،
هغه څه چې په دې ننګوونکو وختونو کې موږ ته هيله منديي راکوي، د اپريل په ۵ او د جون په ۱۴ د رايې ورکولو په ورځو کې د افغانانو خورا قوي او هڅوونکی پيغام دی. هغوی په وياړ او هوډ سره د ډيموکراتيک سياسي انتقال او د ورانوونکي تاوتريخوالي د دورو پای ته د رسيدو په ملاتړ د رايې رکولو لپاره راووتل.

د ۲۰۱۴ کال ولسمشريزې او د ولايتي شوراګانو ټاکنې د افغانانو لخوا ترسره شوې، د افغانانو لخوا مديريت شوې، د افغانانو لخوا رهبري شوې او د افغانانو لخوا خوندي شوې دي. انتخاباتي بنسټونه لا هم د دودې په حال کې دي، خو د دې انتخاباتي دورې چمتووالی او ترسره کول د کورنيو او نړيوالو څارونکو لخوا د تېر په پرتله د پرمختګ په توګه منل شوي دي. دا په هيڅ صورت په دې مانا نه ده چې د درغلۍ او بې نظميو پېښې نه وې.

د رایې ورکولو لومړی پړاو چې په هغه کې د ولسمشرۍ له اتو نوماندانو څخه هیڅ یوه هم له ۵۰ سلنه څخه ډیرې رایې ترلاسه نه کړې، دا په ډاګه کړه چې د افغانستان د اساسي قانون له مخې دوهم پړاو ټاکنو ته اړتیا وه. دا ټاکنې د جون په ۱۴مه ترسره شوې، او ځایي او نړیوالو څارونکو په کې په عمومي توګه د پیاوړي ګډون راپور ورکړ.

زه غواړم د کورنیو چارو وزارت له مشرتابه څخه ستاینه وکړم او د افغانستان پولیسو او پوځي پرسونل ته د ټاکنیز بهیر د امنیت لپاره، چې په ځینو مواردو کې یې خپل ژوند هم له لاسه ورکړل، سلام وایم. د امنیتي لېږد د ګړندي کېدو او د طالبانو د اوړي د وروستۍ مبارزې په منځ کې، چې په هلمند ولایت کې سختې روانې جګړې هم پکې شاملې دي، دې بریالۍ ملي عملیاتو د امنیتي خدماتو په وړاندې په روحیه، باور او باورۍ کې زیاتوالي مرسته کړې ده. د دوبي د جګړو په موسم کې د دوهم پړاو ټاکنو ترسره کېدو سره، د جون په ۱۴مه ۵۳۰ امنیتي پېښې ثبت شوې - چې له دې څخه ۲۵۴ یې په مستقیم ډول له ټاکنو سره تړلې بلل شوې. خو، د یاغیانو څرګند موخه چې د رایې اچونې په بهیر کې د پام وړ خنډ رامنځته کړي، یو ځل بیا ناکامه شوه.

لکه څنګه چې راپور شوي، په څو مواردو کې د محلي قوماندانانو او ټولنو ترمنځ هوکړې شوي وې چې پروسه او ګډونوال به په نښه نه شي. خو نورو بیا هم تاوتریخوالی غوره کړ، چې په کې د ولسمشرۍ د نوماند ډاکټر عبدالله پر کاروان برید هم شامل و، چې مسؤلیت یې هیڅکله نه دی منل شوی. ډاکټر غني هم له ګواښونو سره سره تر برید لاندې راغی. که د ټاکنو خرابوونکو خپل اهداف ترلاسه کړي وای، نو د هېواد لپاره به یې پایلې ویجاړوونکې وای.

په ټولیز ډول د جون په۱۴مه، ملګرو ملتونو د ۵۴ ملکي وګړو مړینه – چې ۲۰ ماشومان پکې شامل وو – او د ۱۶۳ نورو ملکي وګړو ټپي کېدل ثبت کړل. په وروسته ورځو کې، په یوه پېښه کې چې په مناسب ډول یې نړیوال غندنه راوپاروله، په لوېدیځ افغانستان کې د ۱۱ رایه ورکوونکو رنګ شوي ګوتې د ادعا شوي یاغیانو له خوا پرې شوې. د طالبانو مشرتابه دا ډول عمل غیر اسلامي بللی او له ځانه غبرګون کړی دی. زه یوازې د یوه قرباني د بې ساري زړورتیا په اړه حیران یم چې رسنیو ته یې ویلي وو چې دا کار به هغه په راتلونکي کې د خپلې رایې ورکولو له حق څخه د ډېر ځله کار اخیستو څخه منع نه کړي.

د ټاکنو د دې بن‌بست په وخت کې، دا د نوماندانو، د کمپاین کارکوونکو، د ټاکنو د کارکوونکو، امنیتي چارواکو او رایه ورکوونکو هوډ او قرباني ده چې باید د افغانستان د مشرانو په ذهنونو کې تر ټولو مهمه وي. میلیونونه خلک د دواړو نوماندانو د ملاتړ لپاره راووتل. هغوی د بدلون او د ځان او خپلو ماشومانو لپاره د یوې ډېرې سوله ییزې راتلونکې لپاره خپله هیله څرګنده کړه. دا د هغوی رایې او هیلې دي چې باید درناوی یې وشي او خوندي شي. دا چې د داسې یوې بې سارې هڅې پایله اوس یو بن‌بست دی، دا یې لا ډېر ناهیلې کوونکې او خطرناک کوي.

ښاغلی رئیس،

دا د افغانستان د خپلواکو ټاکنیزو ادارو او افغان شریکانو - په ځانګړې توګه د نوماندانو - مسؤلیت دی چې د ټاکنو پروسه په وخت او منظم ډول بشپړه کړي، ترڅو یو مشروع مشر رامنځته شي.

د رایې ورکولو له دویم پړاو څخه لږ وروسته، د اداري تعصب او پراخې درغلۍ په تور، ډاکټر عبدالله له ټاکنیز بهیر څخه د ځان لرې کولو پرېکړه وکړه. تورونه د هېواد په ځینو سیمو کې د رایې ورکوونکو د لوړې کچې ګډون په اړه وو – چې د ډاکټر غني ډله یې په خپل وار د خپل ټیم د ځواکمنولو هڅو ته منسوبوي. د خپلواکې ټاکنیزې کمیسیون د عمومي ټاکنیز مسؤل له وروستۍ استعفا وروسته، هیله وه چې دا به د ښېرته ګډون لپاره یو ټکی برابر کړي او په ځانګړې توګه به د کمپاین ټیمونو او ادارو ترمنځ د تخنیکي کنټرولونو او توازناتو
د پیاوړتیا په اړه بحثونو ته لاره هواره کړي، په هغو ځایونو کې چې د رایې ورکولو بڼې غیر معمولي بلل کیږي، ترڅو د ټاکنیز بهیر په اعتبار او د هغې د پایلې په منلو کې باور زیات شي.

ولسمشریز نوماندان باید سمدستي له یو بل او ذی‌صلاحه ټاکنیزو بنسټونو سره په فعاله توګه د هغو حل لارو په ټاکلو کې ښکېل شي چې له مخې یې دا پروسه په غوره کیفیت او اعتبار سره پرمخ لاړه شي. له ټاکنو پرته بله کومه سیاسي لېږد نشته چې د هیواد

د مشروع مشرتابه د ټاکلو لپاره وي، کوم چې د اکثریت له خوا ومنل شي، او د هغه اساسي قانون او د طالبانو له سقوط راهیسې د ترلاسه شویو نورو لاسته راوړنو د ساتنې لپاره وي.

دا ستاسو د تفویض شوی ماموریت له مخې ده چې ملګري ملتونه، او زه د ځانګړي استازي په توګه، د افغان چارواکو په غوښتنه ښه خدمتونه (مساعی جمیله) وړاندې کولی شو او کوو یې. موږ په دې وروستیو کې دا ډول غوښتنې ترلاسه کړې دي. خو زه د ملګرو ملتونو د ښکېلتیا د حدودو په اړه ډېر روښانه یم. دا د افغانانو ټاکنې دي. موږ کولی شو د افغان خواوو د حل لارو ته په رسېدو کې اسانتیاوې برابرې کړو. موږ کولی شو تخنیکي تخصص وړاندې کړو ترڅو د هغو ځایونو په اړه چې د پروسې په اړه پوښتنې شتون لري، د قوي کنټرول او توازن د رامنځته کولو د امکاناتو او طریقو په اړه مشوره ورکړو. هغه څه چې موږ یې نشو کولی، هغه د افغانانو په استازیتوب د حل لارو چمتو کول او پرېکړه کول دي – دا یوازې د افغانانو ځانګړې مسؤولیت دی. د ملګرو ملتونو هڅې د افغان بنسټونو او ذینفعانو سره مرسته کوي، موږ نشو کولی د هغوی ځای ونیسو یا یې بدیل شو.

د ټاکنو د دویم پړاو له وروسته د تاوتریخوالي په پام کې نیولو سره، چې پکې د توکمیزو تاوتریخوالي زیاتوالی هم شامل دی، ډېرې پوخوالی او سیاسي هوښیاری ته اړتیا ده، په ځانګړې توګه د دوو ولسمشریزو نوماندانو له خوا. که داسې ونه شي، نو خطر دا دی چې د دوو نوماندانو او د هغوی د پلویانو ترمنځ به نښته رامنځته شي، چې په هغه کې به ماتې خوړونکې ډله پایلې رد کړي او د هغوی پر مشروعیت به اعتراض وکړي. دا کار ممکن له اوږدمهاله نښتې سره د تاوتریخوالي د زیاتوالي خطر رامنځته کړي. افغانستان د امنیت، ثبات، اقتصاد او پراختیا سیمې باندې د ناڅاپي اغیزو توان نه لري. نوماندان باید د داسې سناریوګانو د مخنیوي لپاره له یو بل سره بیړنی همکاري وکړي - چې له بده مرغه د اوس لپاره یې له امکان څخه نه شي ایستل کیدای.

د داسې کړکېچ په وختونو کې، ناسم ګامونه، ناسمې اړیکې، ناسم پوهاوی او د یو څو افراطیانو کړنې پراخې پایلې لرلی شي، زه د دواړو نوماندانو له پلویانو غوښتنه کوم چې د ورځ تر بلې د کرکې ډکې او د تاوتریخوالي لامل کېدونکې سختې ویناوې په پام کې نیولو سره ارام پاتې شي، ځکه چې دا د توکمیزو وېشونو خطر رامنځته کوي. تر ټولو ډېره اندېښمنوونکې دا ده چې په دې کې داسې ویناوې هم شاملې دي چې د ۱۹۹۰ لسیزې د ورور وژونکو او فکري شخړو یادُونه راپاروي. دواړه مشران باید هر اړین ګامونه پورته کړي ترڅو د کورنۍ ګډوډۍ او بې ثباتۍ هر ډول خطرناک لوري ته د تګ مخه ونیسي.

د هېواد سیاسي طبقه، او په ځانګړې توګه دوه نوماندان، ډاکټر عبدالله او ډاکټر غني، د دې وضعیت د مدیریت کولو لپاره تر ټولو لوی مسؤولیت پر غاړه لري. د خلکو هغه هیله باید درناوی وشي چې د هېواد د قوانینو سره سم د مشرتابه د لېږد پر وخت پای ته رسېدل غواړي. دوی باید په پرېکنده او فعاله توګه د اوسني بن‌بست د پای ته رسولو لپاره د حل لارو په موندلو کې ښکېل شي او په دې حساس وخت کې د افغانستان پرمختګ ته مرسته وکړي.

لکه د نړۍ په هر ځای کې چې انتخابات وي، په پای کې یوازې یو ګټونکی کیدای شي. اوس اړتیا د سیاستوالی ده، نه د خطرناکو سیاسي لوبو.

ښاغلی رئیس،

د نورو مهمو مسایلو نظر واړوو، په دې دوره کې د افغانستان او پاکستان اړیکې یوه ننګونکې اړیکه وه. سبا، د افغانستان د ملي امنیت سلاکار د سیاسي، پوځي او امنیتي کارکوونکو یوې لوړې کچې پلاوي مشري کوي چې اسلام اباد ته ځي. د غه سفر د پاکستان له خوا کابل ته د ورته سفر وروسته تر سره کېږي. په ټولو برخو کې به خبرې اترې وشي، خو په ځانګړې توګه به د ترهګرۍ پر ګډګواښ باندې پر مبارزې تمرکز وشي. زه د پایلو پر بنسټ عملي همغږۍ او همکارۍ لپاره د پوځي له پوځي او ملکي له ملکي سره د ګډو اړیکو هرکلی کوم. زه همدارنګه د نویو دوه اړخیزو میکانیزمونو د جوړولو پر اړتیا ټینګار کوم ترڅو د ډېرې کړکېچنې او پراخې اقتصادي پراختیا په برخه کې د ګډو ګټو لپاره دوامداره پرمختګ ډاډمن شي.

د سرمنشي د راپور له نهایي کېدو راهیسې، د پاکستان د اسلامي جمهوري دولت په شمالي وزیرستان کې پوځي عملیات پیل کړي دي. دې کار د اغېزمنو شویو سیمو څخه د خلکو د لویې کچې کډوالۍ لامل شوی. زرګونه کډوال د افغانستان خوست او پکتیکا ولایتونو ته کډه کوي. افغان چارواکي، د ملګرو ملتونو د بشپړ ملاتړ سره د ملګرو ملتونو ادارې، صندوقونه او پروګرامونه، له

افغان چارواکو سره په بشپړ ملاتړ، دغه بې ځایه شویو ته د مرستو رسولو لپاره کار کوي، چې ډېری يې په ځايي ټولنو کې مېلمانه کیږي. د افغانستان اقتصادي ننګونو او خپلو داخلي بې ځايه کېدونکو ته په پام سره، هيله ده چې د پولې په پاکستاني غاړه عمليات په داسې ډول تنظيم شي چې د ملکي وګړو د کډوالۍ لړۍ نوره هم زياته نه کړي.

ښاغلی رئيس،

د زياتو ننګونو په دوره کې، د نړيوال ملاتړ وړاندوينه نوره هم مهمه ده. د لوړ پوړو غونډو راتلونکې لړۍ په ځانګړې توګه د يوې نوې اداري سره د ژمنو د روښانه کولو او نوي کولو لپاره د يو فرصت په توګه ليدل شوې: د چين د خلکو جمهوريت لخوا کوربه توب شوي د "آسيا زړه/استانبول پروسې" په وزيرانو غونډه کې سيمه ييز همکاري، په ويلز کې د ناټو په سرمشريزه کې رواني نړيوالي امنيتي مرستې، او د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې د پراختيا لومړيتوبونه. دا هرڅه د افغانستان پر سياسي مشرانو او بنسټونو پورې اړه لري چې د ټاکنو بن‌بست ماته کړي او سياسي لېږد په منظم او پر وخت ډول بشپړ کړي.

ښاغلی رئيس،

په ټوليز ډول دا راپور ورکولو ربع د افغانستان لپاره د هيله مندۍ او ننګونو ډکه وه. له روښانه اړخونو څخه يو يې په ټاکنيز بهير کې د خلکو ګډون او ښکېلتيا ده. خو بيا هم دا پرمهال د اقتصادي رکود تر سيوري لاندې و، چې د اوسنيو ناڅرګندتياوو له امله د باور نشتوالي، د بې نظمه او ورانکارو کړنو د هغو په ګډون چې له نړيوال تروريزم او نشه يي توکو شبکو سره تړاو لري، اوسني ټاکنيز بن بست، او د طبيعي پېښو او شخړو له امله رامنځته شوي مرګ‌ژوبلې او کډوالۍ. يوازې تېره اونۍ د لوړو سولې شورا د سکرتريت پر مشر، مسعود استانکزی، چې د سولې لپاره يې نه‌ستړې‌کيدونکې هڅې کړې دي، د وژنې هڅه وشوه.

سره له دې، د افغانستان خلک يوې ښې راتلونکې ته ګوري – او له خپلو مشرانو تمه لري چې د هغې د تحقق لپاره کار وکړي.

په پای کې، ښاغلی رئيس، زه غواړم يادونه وکړم چې افغانستان، د ټولې امت سره يوځای، د روژې د مبارکې مياشتې د لمانځنې لپاره چمتووالی نيسي. زه په ريښتينولۍ سره هيله لرم چې د روژې د مبارکې مياشتې دا موقع، چې په خواخوږۍ او رحم سره لمانځل کيږي، وکولای شي په خپل ځانګړي ډول د فکر او دعا له لارې، د يو باثباته او متحد افغانستان د سوله ييز او سوکاله راتلونکې لپاره لاره هواره کړي.

زما قدرمن همکار ښاغلی سفير طنين، د امنيت شورا غړو، او د سولې ټولو مينه والو خلکو ته، زه د روژې مبارکۍ دوديزې هيلې وړاندې کوم، رمضان مو مبارک شه.

له پاملرنې مو مننه

***

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د رسنيو ټولې اړيکې په لاندې پته د لاسرسي وړ دي:
http://unama.unmissions.org